**ځواب:** ډیر ژروشړیږي او له استفادې څخه به ووځي نو بیا د هغې د جوړیدو لپاره کلونه کلونه وخت په کار دی.

**سوال:** په هوا کې کوم غازات شامل دي؟

**ځواب:** په هو کې اکسیجن او نیتروجن او زون شامل دي.

**سوال:** په هوا کې د اکسیجن فیصده څومره ده؟

**ځواب:** په هوا کې د اکسیجن فیصده [۲۱] دی.

**سوال:** په هوا کې د نیتروجن څومره دی؟

**ځواب:** په هوا کې نیتروجن [۷۸] فیصده دی.

**سوال:** او په هوا کې نور غازات څو فیصده دي؟

**ځواب:** او په هو کې نور غازات [۱] فیصده دي.

**سوال:** د فوتوسنتیز عملیه کې څه ته اړتیا لرو؟

**ځواب:** د فوتوسنتیز عملیه کې اکسیجن ته اړتیا لرو.

**سوال:** د ښار د هوا په پاک ساتلو په برخه کې باید څه ته پاملرنه وشي؟

**ځواب:** باید هوا ککړه نه شي .

## د ښار د هوا ککړتیا

**سوال:** د هوا ککړتیا څه ته وایي؟

**ځواب:** تاسي هغه اضافي ماده چې په هوا کې ګډه شي او د هغې فزیکي، کیمیاوي ځانګړتیاوي او د هغې حیاتي شرایطو ته بدلون ورکړي د هوا ککړتیا بلل کیږي.

**سوال:** د هوا ککړیدو دوه لاملونه ولیکئ؟

**ځواب:** په نقلیه وسایطو کې د زړو ډیزلي انجنونو لګول، د ښار دننه د پخوانیو ماډلونو او زړو وسایطو کرځیدل راګرځیدل.

**سوال:** د ټولو ښارونو په پرتله کوم ښار هوا ککړه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: د کابل ښار هوا.

سوال: د کابل ښار د نفوسو شمیر څومره دی؟

ځواب: د څلورنیم میلونو څخه ترپنځو میلونو پورې دی.

سوال: څومره شیان نیغ په نیغه د وینې جریان ته داخلیږي او د سرطان ناروغي مینځ ته رواړي؟

ځواب: د [۵،۲] مایکروگرامو څخه واړه شیان.

سوال: د کابل د ښار په هوا کې د کوچنیو ذراتو د خپریدو له امله هر کال په هوا کې څومره ټنه مواد اضافه کیږي؟

ځواب: [۱۷۳۶۳] ټنه مواد اضافه کیږي.

سوال: د هوا په ککړتیا کې د سلفروکساید اندازه څومره ده؟

ځواب: د هوا په ککړتیا کې د سلفر و کساید اندازه [۲۴۴۸] ټنه ده.

سوال: په هوا کې د نایتروجن ډای اکساید د هوا ککړتیا څومره ده؟

ځواب: [۶۱۸۳۱] ټنه ده.

## الف: د زړو عراده جاتو زیاتوالی او د ښار د هوا ککړتیا:

سوال: په [۱۳۸۸هـ] کال کې څومره موټر د ترافیکو په رسمي راجستر کې شامل وه؟

ځواب: [ ۳۶۵۴۶۹ درې لکه پنځه شپیته زره څلور سوه نهه شپیته]

سوال: او څوفیصده یې زاړه او ټیټ ماډل وه؟

ځواب: [۴۰] فیصده یې زاړه او ټیټ ماډل وه.

سوال: زاړه مېټر په هوا کې کوم ډول مضره عناصر خپروي؟

ځواب: کاربن مونو او کساید نایتروجن ډای اکساید، سلفر ډای اکساید، سربو ذرات، ځنګړې Pm2 ماده ، Pm10 ځنګړې ماده خپروي.

سوال: اقلیمي وضع هم د کوڅواو سړکونو په پاکې د څه شي اغیزه لري؟

ځواب: نظافت اغیزه لري .

## زلزله: او د زلزلې خطرونه

سوال: زلزله تغریف کــړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: زلزله د ځمکي مخ لړ یا ډیرو لړزیدو ته زلزله وویل کیږي چي کله سیمه ییزه ښه لري او شاوخوا خپریږي.

سوال: د زلزلې پیژاندنه د کوم لویدیځ عالم له خوا وشوه؟

ځواب: د [میرکالي کانکلي] له خوا وشوه.

سوال: زلزلې پیښېدولو علتونه ولیکئ؟

ځواب: اول تکتونیکي لامل دویم د اور غورځوانې لامل دریم پلو تونیکي لامل دی.

سوال: تکتونیکي زلزله او څنګه پیښیږي؟

ځواب: کله چي دغه پلیتونه د بل په وړاندې بی موازینی شي نود یو بل پرتله خوځیږي او بیځایه کیږي نو ځکه په د غه سیمه کې زلزله پیښیږي. نو دغې زلزلې ته تکتونیکي زلزله وایي.

سوال: د اور غورځونې زلزلې په کومه سیمه کې رامینځته کیږي؟

ځواب: په چاپان ، لرې ختیځ ، کلفورنیا او د امریکا په غربي څنډو کې رامینځنه کیږي.

سوال: پلوتونیک زلزله څنګه مینځته راځي؟

ځواب: د مګما د طبقې د مخ پورته [صعودي] حرکت یو فشاري د تودوخي د ګرځیدو له امله مینځته راځي.

سوال: د زلزلې د زیان او خطر کمښت باید له څو پلوه په پام کې و نیول شي؟

ځواب: له دوه پلوه باید ونیول شي.

سوال: د ودنیو په جوړښت کې باید کومو ټکو ته پام وشي چي د زلزلې څخه لګ په امان کې وي یو څو یې ولیکئ؟

ځواب: د ودانیو د اسکلیټ په جوړولو کې باید د سمنټو وسپنې او ګاډر کانکریټ څخه کار واخیستل شي.

سوال: په زلزله لرونکو سیمو کې باید په کومو سیمو کې ودانې جوړې نه شي؟

ځواب: د غرونو په لمنوکې ، رسوبي ځمکو او پستو خاورو کې باید جوړې نه شي.

سوال: د زلزلې په وخت کې څه کیږي یو څو لاملونه یې ولیکئ؟

ځواب: په زلزله کې ودانې نړیږي، اور لګیږي او آن د ځمکې پر مخ سورې او درزونه جوړیږي.

سوال: په ښوونځیو کې د ښوونکو د زلزلې په اړه دنده څه ده؟

ځواب: چې د زلزلې د خطر په اړه خبرې وکړي او د چمتوالي په هکله زده کوونکوته فلمونه وښودل شي باید د ښوونځي او ټولګي وځارل شي او د زلزلې په اړه مقدماتي چارې لاس لاندې ونیول شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


**سوال: د زلزلې د ټکانونو د کلکوالي د اندازه کولو واحد څه شي دي؟**

**ځواب: مرکالي او ريخستر دی.**

**سوال: زلزلې څپې په څو ډوله دي نومونه يې وليکئ؟**

**ځواب: د زلزلې څپې په درې ډوله دي چې عبارت دي له اول لومړنۍ څپې دويم ډول څپې ټکانونه او ضربې او دريم سطحي او برسيرن امواج څپې دي.**

**سوال: د زلزلې شدت پورې څه شی اړه لري يو څويې وليکئ؟**

**ځواب: هغه څه چې پر الميارېو کټونو ديوالونو ، ميز، يا د کوټې پر مخ پراته وي، د هغو خو ځښت او بېځايه کېدل د زلزلې شدت پورې اړه لري.**

**سوال: د زلزلې شدت او کلکوالی له څو نه تر څو درجو پورې دی؟**

**ځواب: له يو څخه تر نهو درجو پورې دی.**

**سوال: د ډېره سپکه زلزله ټکان باندې څوک پوهېږي او لامل يې وليکئ؟**

**ځواب: د ډېره سپکه زلزله ټکان باندې يوازې انسانان پوهېږي او لامل يې ځوړند شيان خوځېږي.**

**سوال: د سپکې زلزلې لاملونه وليکئ؟**

**ځواب: په دانيو کې خوځښت تر سترګو کېږي او ځوړند شيان پوره خوځېږي، او ځوړند شيان ډېر ګړندي خو ځېږي، کړکۍ او دروازې ښورې،او د کړکيو او دروازو په چوکاټ کې درزونه راښکاره کېږي.**

**سوال: د منځنۍ زلزلې لاملونه وليکئ؟**

**ځواب: د منځنۍ زلزلې خلک له ودانيو څخه بهر هم په زلزله پوهېږي، او کوچني شيان بېځايه کېږي ، پر ديوالونو باندې ځړول شوي انځورونه خوځېږي.**

**سوال: يو څه کلکې زلزلې لاملونه وليکئ؟**

**ځواب: ټکان لا زيات احساس کېږي خلک له کوټو څخه بهر وزي له الماريو څخه لوښي رالوېږي.**

**سوال: د کلکې زلزلې لاملونه وليکئ؟**

**ځواب: انسان خپل واک له لاسه ورکوي ، ودانيو کې هر څه بېځايه کېږي، موټر چلوونکي په خپل موټر کې په زلزله پوهېږي، کانکريټي ويالې و يچاړېږي، او د موټر تګ اغيزمن کېږي او ودانۍ نړېږي.**

**سوال: ډېرې کلکې زلزلې لاملونه وليکئ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: ودانۍ غورځېږي، د اوبو زیرمې شړېږي، د ځمکې پر مخ درز او ماتوالی لیدل کېږي لرګین پلونه ماتېږي د اوسپنې پټلۍ خپل توازن له لاسه ور کوي او لوی کاڼي بېځایه کېږي او ځنې وخت شیان پورته غورځي او پایپ لاینونه ویجاړېږي.

سوال: زلزې په کومو سیمو کې ډېرې لیدل کېږي؟

ځواب: زلزلې په روسوبي سیمو کې ډېرې لیدل کېږي.

## د هېواد زلزله لرونکې سیمې

سوال: د افغانستان هېواد زلزلې لرونکې سیمې کومې دي ؟

ځواب: د افغانستان د هېواد زلزلې لرونکې شمال ختیځ سیمې دي.

سوال: په افغانستان کې زلزله لرونکې خوزې په څو برخو ویشل شوې دي نومونه یې ولیکئ؟

ځواب: په څلور ډوله دي چې عبارت دي له د کلکو زلزلو حوزه، د منځنۍ زلزلو حوزه، د خفیفو زلزلو حوزه،او هغه حوزه چې زلزلې نه لري یا یې زیان لږ[کم] وي.

سوال: د کنړ او نورستان ولایتونه د زلزلو په کومه حوزه کې دي؟

ځواب: د کلکو زلزلو په حوزه کې دي.

سوال: فراه ولایت د زلزلو په کومه حوزه کې دی؟

ځواب: هغه حوزه چې زلزلې نه لري او که لری یې نوزیان یې ډیر کم دی.

## سیلاوونه

سوال: سیلاو څنګه منځ ته راځي؟

ځواب: سیلاو د اوبو هغه ناڅاپي راتګ دی چې له غرنیو خوړونو څخه راوځي .

سوال: د سیلاونو درې زیانونه ولیکئ؟

ځواب: د سیند غاړې وړي، کلیوالي او ښاري کورونه نړوي، د انسانان او ژوي له ځانه سره وړي.

سوال: کومه دره یو سیلاو او په څوم کال کې په یو سپیره ډاګ بدله کړه؟

ځواب: د کوهدامن په ګلدره په [۱۳۲۰ هـ ش] کال کې په یوه سپیره ډاګ بدله کړه.

سوال: په [۲۰۰۵] م کال کې د سونامي سیلاو سمندري څپو د اسیا په جنوب کې څومره خلک یې ووژل شمیر یې ولیکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: په [۲۰۰۵] م کال کې د سونامي سيلاو سمندري څپو د اسيا په جنوب کې سل زره خلــک ووژل.

سوال: سيلاونه په څوډوله دي نومونه يې وايکئ؟

ځواب: په څلور ډوله دي چې غبارت دي له آوار سيلاو، د سيندونو سيلاو ، سونامي ساحي سيلاوونه ، هغه سيلاوونه چې د کنګلو د ماتيدو له امله راځي.

سوال: غرني سيلاوونه د څه شي په نتيجه کې مينځته راځي؟

ځواب: د کنګلونو د ماتيدو په نتيجه کې مينځ ته راځي.

## د سيلاو زيان او د هغه مخنيوی

سوال: له سيلاو څخه پيدا شوي خطرونه په څو ډوله دي نومونه يې وليکئ؟

ځواب: په دوه ډوله دي چې غبارت دي له اول سيده [ مستقيم ] خطرونه دويم ناسيده [ غيرمستقيم] خطرونه دي.

سوال: سيده [ مستقيم ] خطرونو يو څو لاملونه وليکئ؟

ځواب: په دې ډوله خطر کې کرنيزې ځمکې ويجاړيږي، کورونه او بنونه له مينځه ځي.

سوال: ناسيده [ غير مستقيم] خطرونو يو څو لاملونه وليکئ؟

ځواب: په تک را تک کې خنډ او ځنډراولي او خلـکو ته ويره پيداکوي، د پلورونکو کار له ستونځو سره مخامخ کوي.

سوال: د سيلاو مخه بايد د چه له خوا ونيول شي؟

ځواب: د سيلو مخه بايد خلکو او حکومت له خوا ونيول شي.

سوال: د سيلاو د خطر په وړاندې بايد څه وکړو؟

ځواب: د سيلاو د خطر په وړاندې بايد تول چمتو اوسي او د هغه زيانونه راکم کړي او د ويجاړولو مخنيوي وشي.

سوال: هغه وداني چې د سيلاوونو په مخه کې دي هغه بايد څنګه وي؟

ځواب: هغه وداني بايد چې ډير کلــک او له معياري موادو څخه جوړ شوي وي.

## اور غور ځووونکي [ آتشفشان]

سوال: اورغور ځوونکي تغريف کړئ؟

ځواب: د ځمکې دننه طبقې [مګما] د اورينو مدارو پورته خواته راتلل دي چې د ډيرې لوړې تودوخې فشار کيمياوي تغاملاتو او فزيکي بدلونونو له امله ځمکې څخه راوځي او د ځمکې پر مخ بدلونراولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال: په لاتيني ژبه کې اور غور ځونکی ته څه وايي؟

ځواب: ولکانو یا ولکان ورته وويل کيږي.

سوال: لاوا څه ته وايي تعريف يې کړئ؟

ځواب: هغه مواد چې د اور غور ځونکو په نتيجه د [۷۰۰] څخه تر[۱۲۰۰] سانتي گرد کې ويلي شي د لاوا په نامه يادیږي يا لاوا وايې.

سوال: د لاوا رنګ څه ډول دی؟

ځواب: سپین یا سور یا نارنجي دی.

سوال: کومې سیمې ډیر آتشفشان لري نومونه يې وليکئ؟

ځواب: د ارام سمند غاړه ، کمچتکا، هاوییاو د امریکی لویدیځې غاړې دي.

سوال: د آیسلنډ اور غور ځونکی په څوم کال کې دوه ځلي فغاله شو؟

ځواب: په [۲۱۰] کال کې دوه ځلي فغاله شو.

## په هیواد کې پخوانی اورغورځوونکي سيمې[حوزې]

سوال: د اور غور ځوونکو دوه نښې وليکئ؟

ځواب: په مخروطي بڼه غونډۍ او تودو اوبوچینې

سوال: د ګود زرې ولاړې اوبه چیرته دي؟

ځواب: د چګاهی غرونو په شمال کې چې دا غرونه د اور غورځونکو په پایله کې مینځته راځي.

سوال: د شفا چینه په کوم ولایت کې ده؟

ځواب: په مزار شریف کې ده.

سوال: په مزارشريف کي د چشمه شفا چينه چي داور غورځونکو په نتيجه کي راغلي اوبه يې څه ډول رنګ لري؟

ځواب: اوبه یې ژیر رنګ لرونکی دي.

سوال: د ګل کوه جوړښت څه ډول دی؟

ځواب: یوه منظمه مخروطي غونډۍ ده چې د اور غور ځونکو په پایله کې مینځته راغلي ده.

## د نړۍ د پیدا کیدو په هکله نظریات

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال: دنړۍ د پیداکیدو په هکله اسلام څه نظر ورکړ؟

ځواب: [ ثم استوا الي السماء وهی دخان] ژباړه: [ نو وګورئ د آسمان لوري ته کله چې آسمانونه له لوګي څخه ډک وو].

سوال: د اوسنیو معاصرو پوهانو نومونه ولیکئ چې د نړۍ د پیدا کیدو په هکله یې نظریې ورکړې دي؟

ځواب: کانت جرمني نامتو فیلسوف دی، لاپلاس د فرانسې نامتو ریاضي پوه دی، لا کییر امریکایي پوه دی.

سوال: جرمني نامتو علم او فیلسوف کانت په څوم کال کې د کایناتو د پیدایښت په هکله نظر ورکړ؟

ځواب: [۱۷۵۵] میلادي کال کې نظر ورکړ.

سوال: فرانسوي نامتو عالم او ریاضي پوه لا پلاس په څوم کال کې د شمسي نظام د پیل په هکله نظر ورکړ؟

ځواب: په [ ۱۷۹۶] میلادي کال کې یې نظر ورکړ.

سوال: د تایدل نظریه څه وه لګ مغلومات یې ولیکئ؟

ځواب: د تایدل له نظر سره سم لمر په کایناتو کې لګه د یوې سرې لمبې یا روښانه ډیوې په شان و یو بل آسماني غونداری چې ډیر غټ و د لمر له څنګه په یوه لرې واټن تېر شو.

سوال: د لاکییر نظریه څه ډول وه لګ مغلومات یې ولیکئ؟

ځواب: امریکایي پوه لاکییر په دې عقیده و چې په فضا کې یو شمېر اسماني تیږي او هغه ستوري چې په لمریز نظام کې دي د همدغو تیږو له یوځای کیدو څخه جوړ شوي دي.

## کهکشان : لمریز نظام

سوال:د کهکشان د نیبولا مخوری ګرځیدل کوم ډول بڼه لري؟

ځواب: بیضوي او فنر ډول بڼه لري.

سوال: په کایناتو کې تراوسه کوم ډول کهکشانونه کشف شوي دي؟

ځواب: پیولا، اندرو میدا، دری ګونی ، او قنطورس کهکشانونه کسف شوي دي.

سوال: د شیدو لار [ پیبولار] کهکشان اوږدوالی څومره دی؟

ځواب: لس زره نوري کاله دي.

سوال: د شیدو لار [ پیولار] کهکشان پیروالی څومره دی؟

ځواب: [۱۰۰] زره نوري کلونه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال: د لمر رڼا په څومره وخت کې ځمکې ته رارسیږي؟

ځواب: په اتو دقیقو کې او اوولس سانیو کې [۱۷ : ۸]

سوال: د کهکشان د شیرې لرې په ترخ کې څومره ستوري او ثرابت شته؟

ځواب: د دوه سوه میلونو څخه زیات چې یو شمیر یې له لمر څخه هم لوي دي.

سوال: کومې منظومې د لمر پرتله لویې دي؟

ځواب: بیتل ګوس چې د لمر څخه [۶۰۰] ځله غټ دي، دبران چې د لمر څخه [۲۰] ځله غټ دي.

سوال: لمریزه منظومه څومره وخت کې د شیرې لار [ پیولار] کهکشان په شاخوا باندی یو ځل راڅرخیږي؟

ځواب: په [۲۰۰] میلیونو کلونو کې .

سوال: د شیری لار [پیولار] کهکشان په شنه آسمان کې د شپې لخوا کوم ډول رنګ لري؟

ځواب: روښانه سپین ډول رنګ لري.

سوال: اندرومید کهکشان د ځمکې څخه څومره لرې دی؟

ځواب: [۲۰۰] میلونه نوري کلونه لرې دی.

سوال: اندرومید کهکشان کوم ډول دی او هغه کې څومره ستوري شتون لري؟

ځواب: یو خلقوي کهکشان دی او په هغه کې سلګونه میلیار ده ستوري شتون لري.

سوال: تری انګلوم [ دری ګونی] کهکشان د شیرې لار [ پیولار] کهکشان په پرتله څومره کوچنی دی؟

ځواب : څلور ځله کوچنی دی.

سوال: قنطورس [ اس سر] کهکشان واضغ کړئ؟

ځواب: دا د سرې وریځې یو کهکشان دی چې د ګرځیدو په حال کې دی او په هعه کې د ستورو جوړیدو امکان شته.

سوال: شمسي نظام تغریف کړئ او نومونه یې ولیکئ؟

ځواب: دشمسي منظومې ټولې سیارې او نور اجرام دي چې نهه اصلي سیارې لري چې غبارت دي له عطارد، زهره، ځمکه ، مریخ مشتري، زحل، اورانوس، پنتون، او پلوتو دي.

سوال: شمسي نظام څو سیارې او څوسپوږمۍ لري؟

ځواب: نهه سیارې او [۱۶۵] سپوږمۍ لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سوال:** لمر ته تر ټولو نږدې سیاره کومه یوه ده؟

**ځواب:** عطارد سیاره ده.

**سوال:** ذ عطارد سیاره په کومو وختونوکې ښه لیدل کیږي؟

**ځواب:** په سهار کې او مازدیګر کې ښه لیدل کیږي.

**سوال:** دعطارد د تودوخې درجه څومره ده؟

**ځواب:** د عطارد د تودوخې درجه [۴۲۷] سانتي ګراد ده.

**سوال:** کومې سیارې سپوږمکې نه لري؟

**ځواب:** عطارد او ذهره سپوږمکۍ سیارې نه لري.

**سوال:** کومه سپوږمکۍ  اتموسفیر نه لري؟

**ځواب:** عطارد سپوږمکۍ یې نه لري.

**سوال:** کومه سپوږمکۍ د ځمکې په ندازه ده؟

**ځواب:** زهره سپومکۍ ده.

**سوال:** کومې سپوږمکۍ ته چې موږ وګورو یو روڼ غونداری ښکاري؟

**ځواب:** زهره سپوږمکۍ ته چې وګورو نو روڼ غونداری ښکاري.

**سوال:** کومې سپوږمکۍ  اتموسفیر د وریځو څخه جوړ شوی دی؟

**ځواب:** زهره سپوږمکۍ  اتموسفیر د وریځو څخه جوړ شوی دی.

**سوال:** زهره سپومکۍ د تودوخې درجه څومره ده؟

**ځواب:** [۴۶۵] سانتي ګرد ده.

**سوال:** د ځمکې یو څه طبقات ولیکئ؟

**ځواب:** سیال، سیما، منتل، او د ځمکې د ننه هسته[منځکه]

**سوال:** مریخ سپوږمکۍ کوم ډول رنګ لري؟

**ځواب:** مریخ سپوږمکۍ سوړ او سور رنګ لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سوال: د مریخ د منځني تودوخې درجه څومره ده؟**

**ځواب: منفی [۵۵] درجې ده.**

**سوال: مشتري ستوری کوم دی؟**

**ځواب: د شمسي منظومې یو ډیر غټ او په آسمان کې ځلیدونکی څلورم ستوری دی.**

**سوال: د مشتري ستوري د ځلیدو یو دلیل ولیکئ؟**

**ځواب: هغه ډیر لویوالی لري نو ځکه ځلیږي.**

**سوال: د مشتري ستوري مخ له څه شي څخه جوړ دی؟**

**ځواب: د اورینو ویلې شویو ګازونو[ هایدروجن او هیلیوم ] څخه جوړ دی.**

**سوال: د مشتري ستوري منځني تودوخه څو درجې ده؟**

**ځواب: [۲۰۰۰۰] شل زره درجې ده.**

**سوال: کومه سیاره دلمریز نظام یوه ښکلې سیاره ده؟**

**ځواب: زحل سیاره ده.**

**سوال: د زحل سیارې د مخ یخني څو سانتي ګراد درجې ده؟**

**ځواب: منفي [۱۸۰] درجې ده.**

**سوال: د لمر نظام دریمه سیاره کومه ده نوم یې ولیکئ؟**

**ځواب: اور انوس سیاره ده.**

**سوال: د اورانوس سیاره له څه شي څخه جوړه شوې ده؟**

**ځواب: د هایدروجن او هیلیوم او میتان له ګازونوڅخه جوړه شوې ده.**

**سوال: د اورانوس سیارې د مخ یخني څومره ده؟**

**ځواب: منفي [ ۲۱۰] درجې ده.**

**سوال: د لمریز نظام وروستی ګاز لرونکې سیاره کومه یوه ده؟**

**ځواب: د نپتون سیاره ده.**

**سوال: د نپتون سیاره مخ کوم ډول رنګ لري؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: شین رنګ لري.

سوال: د کومه سیاره کې تیږې دي؟

ځواب: پلوتو سیاره کې تیږې دي.

## د ځمکې جوړښت

سوال: د ځمکې کره د خپل جوړښت له مخې کوم ډول بڼه لري؟

ځواب: Geoid بڼه لري.

سوال: لیتوسفیر څه ته وایې؟

ځواب: د ځمکې هغه طبقه ده چې د ځمکې قشر او منتل په کې راځي. د سلیکان مګنیزم المونیم او اکسیجن له مرکاباتو څخه جوړه شوې ده.

سوال: بهرانۍ پوښ د کومو طبقو څخه جوړه او د مګما ځومره برخه یې نیولې ده؟

ځواب: د سیال او سیما له طبقو څخه جوړه او [ ۴۰] څخه تر [۸] کیلومتره پورې یې د مګما طبقه نیولې ده.

سوال: د سیال طبقه د کومو عناصرو څخه جوړه ده او کوم ډول تیږې په کې شاملې دي؟

ځواب: د سیلو سیم او المونیم څخه جوړه شوې ده او ګرانیټ تیږې لري.

سوال: سیما طبقه څه ته وایې ؟

ځواب: د ځمکې دویم پوښ یا قشر بله طبقه سیما بلل کیږي.

سوال: سیما طبقه د کومو مرکباتو څخه جوړه شوې ده.

ځواب: سیلوسیم او مګنیزیم له مرکباتو څخه حوره شوې ده.

سوال: د سیما طبقې د زلزلې د څپو چټکوالی څومره او تیږې یې څه ډول رنګ لري؟

ځواب: څلور میله په یوه ثاتیه کې او د تیږو رنګ یې تیاره او تور دی.

سوال:  د مګما طبقه څومره پریړوالی څومره دی؟

ځواب: [ ۲۸۹۵] کیلومتره دی.

سوال: د مګما طبقې مهم مرکبات کوم دي ؟

ځواب: اوسپنه ، مګنیزیم، او سلیکیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سوال: د ځمکي هسته د څو طبقو لرونکي ده نومونه يې وليکئ؟**

**ځواب: د دوو طبقو لرونکې ده بهرنۍ او د ننني هستې په نوم ياديږي.**

**سوال: د بهرنۍ هسته څومره پريروالی لري او مرکبات يې کوم دي؟**

**ځواب: [۲۲۲۰] کيلومتره پريروالی لري او مرکبات يې نکل او اوسپنه دي.**

**سوال: د دننني هسته څومره پريروالی لري او مرکبات يې کوم دي؟**

**ځواب: [ ۱۲۵۵] کيلومتره پريروالی دی او مرکبات يې اوسپنه او نکل دی.**

**سوال: د ځمکي د مخ مساحت څومره دی؟**

**ځواب: [۵۱۰،۱۰۰،۰۰۰] ميليون کيلومتره مربع ده.**

**سوال: سمندرونو څومره ساخه نيولې ده؟**

**ځواب: په سلو کې [۷۱] فيصده ساخه نيولې ده.**

**سوال: آرام سمندر [ بحرالکاهل] څومره ساخه نيولې ده؟**

**ځواب: [۱۸۰] ميليونه مربع کيلو متره نيولې ده.**

**سوال: د هند سمندر څومره برخه نيولې ده؟**

**ځواب: [۷۵] ميليون مربع کيلو متره نيولې ده.**

## د نړۍ نامتو سيندونه

**سوال: د اسيا ځينې نامتو سيندونو نومونه وليکئ؟**

**ځواب: آمو [ جيحون] سير دريا [ سيحون] هوانګهو، د جله، فرات ،اوب اولينا دي.**

**سوال: د اروپا مهمو سيندونو نومونه وليکئ؟**

**ځواب: دانيوب، راين، والګا، سين، لوار، د نيپر، د نيستر، تاژ، وستولا، ګواديانا، پو، رون او ګارون، دي.**

**سوال: د افريقې د لويې وچې نامتو سيندونو نومونه وليکئ؟**

**ځواب: نيل او کانګو او نايجير دي.**

**سوال: د افريقې تر ټولو اوږد سيند کوم دی؟**

**ځواب: د نيل سيند دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال:د نیل سیند په څومره واټن او په کوم سمندرګي کې تويیږي؟

ځواب: په [۶۶۵۰] کیلو متره واټن او په مدیترانې سمندرګي کې تويیږي.

سوال: د نیل سیند څه ارزښت لري؟

ځواب: دغه سیند ډیر مهم کرنیز او اقتصادي او ترانسپورتي ارزښت لري.

سوال: د نیل سیند څو مرسیلان څو دي نومونه یې ولیکئ؟

ځواب: یو یې سپین نیل او بل یې شین نیل دی.

## د ځمکې د وچو لوړې ژورې

سوال: د الپ سیستم تشریح کړئ؟

ځواب:د الپونه د سینوزوییک دورې د لومړنیو و ختونو د ارګانیکو خرکتونو زیږنده دي چې د ځمکې د کرې د پاتې لړۍ پرتله ځوان دي.

سوال: د الپ سیستم په څو ګروپونو ویشل شوی دی؟

ځواب: په دوه ګروپونو ویشل شوی دی.

سوال: ماتې سیمې کومې دي؟

ځواب: ماتې سیمې د ځمکې د مخ هغه برخوته ویل کیږي چې څه ناڅه په وچه  یا د سمندرونو د ننه تر اوبو لاندې وي.

## د سپوږمۍ او د هغې عمومي ځانګړ تیاوې: خسوف او کسوف

سوال: په څوم کال کې او چا ولیدل چې د سپوږمکۍ پرمخ زیات شمیر غرونه او لوړې ژورې شته .

ځواب: په [ ۱۶۰۹] م کال کې ګالیله ولیدل چې د سپوږمکۍ پرمخ زیات شمیر غرونه او لوړې ژورې شته.

سوال: د ځمکې د جاذبې قوه د سپوږمکۍ په پرتله څومره ده؟

ځواب: د سپوږمکۍ د جاذبې قوه د ځمکې په پرتله شپږځله کمه ده.

سوال: کوم فضاګرځیدونکی د سپوږمۍ پر مخ کوز شول؟

ځواب: نیل آرم سترانګ او ادوین الدرین د سپوږمکۍ پر مخ کوز شول.

سوال: د ځمکې او سپوږمۍ واټن څومره دی؟

ځواب: [۳۸۲۱۸۰]  کیلو متره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سوال:** سپوږمی انتقالي خرکت په څومره وخت کې ترسره کیږي؟

**ځواب:** په [۲۹] ورځو او [۱۲] ساعتونو او [۲۴] دقیقو کې تر سره کیږي.

**سوال:** کسوف څه ته وایي؟

**ځواب:** که چیرې سپوږمی د لمر او ځمکې تر مینځ راشي او دري واړه په یوه کرښه کې واقع شي دا وخت که د سپوږمی سیوری په ځمکه ولویږي کسوف [ لمر نیول] پیښیږي.

**سوال:** خسوف څه ته وایي؟

**ځواب:** که چیرې ځمکه د سپوږمی او لمر تر مینځ په یوه کرښه کې راشي په دغه وخت کې د ځمکې سیوری په سپوږمی لویږي نوخسوف پیښیږي.

## دځمکې د ګرځیدلو ډولونه

**سوال:** ځمکه څوډوله خرکتونه کوي؟

**ځواب:** ځمکه پنځه ډوله خرکتونه لري چې عبارت دي له وضعي حرکت ، انتقالي حرکت، نوساني حرکت، د ویګادستوري خوا ته حرکت، یوه نا څرګنده لوري ته د سحابي کهکشان سره یو ځای د ځمکې حرکت.

**سوال:** شپه او ورځ د ځمکې کوم  حرکت نه مینځته راځي؟

**ځواب:** د وضعي حرکت په پایله کې مینځته راځي.

**سوال:** د ځمکې د مدار اوږدوالی څومره دی؟

**ځواب:** [۹۳۱] میلیون کیلو متره دی.

**سوال:** په یوه ثانیه کې د ځمکې مدار څومره ښودل شوې دی؟

**ځواب:** [۳۰] کیلو متره ښودل شوی دی.

**سوال:** د لمر او د ځمکې تر مینځ واټن څومره دی؟

**ځواب:** [۱۴۹] میلیون کیلومتره دی.

**سوال:** لمریز انقلاب څه ته وایي؟

**ځواب:** کله چې ځمکه د بیضوي مدار یوه قطر [اوج یا حضیض] ته ورسیږي شمسي انقلاب بلل کیږي.

**سوال:** اوړي شمسي انقلاب او د ژمي شمسي انقلاب دواړه د ځمکې څه شي ته ارزښت لري؟

**ځواب:** دواړه یې د ځمکې کرې ته ارزښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سوال:** شمالي نیمه کره په کوم وخت کې لمر ته مخامخ وي؟

**ځواب:** په اوړي کې ورته مخامخ وي.

**سوال:** شمالي نیمې کرې ته په ژمي کې د لمر وړانګې څه ډول رسیږي.

**ځواب:** په ژمي کې د لمر وړانګې مایله ورته رسیږي.

**سوال:** ځمکه د څه شي په شاوخوا چورلیږي؟

**ځواب:** ځمکه هم د نورو سیارو په شان د لمر پرشاوخوا چورلیږي.

**سوال:** طبیعي او جغرافیاوي پیښې د ځمکې څو ډوله حرکتونو څخه را مینځته کیږي؟

**ځواب:** له دوه ډوله حرکتونه څخه رامینځته کیږي.

## طول البلد او عرض البلد کرښې

**سوال:** د طول البلد د پیل ټکط کوم دی؟

**ځواب:** د ګر نیویچ کرښه چې لندن له ښار څخه تیریږي د طول لبلد د پیل ټکط دی.

**سوال:** د طول البلد د دیرو شمیر څومره دی؟

**ځواب:** [۳۶۰] درجې دی

**سوال:** طول البلد څه ته وایې؟

**ځواب:** هغه نیمې دایرې دي چې له شمالي قطب څخه پیل د سویل قطب پورې رسیږي او استوا کرښه باندې عمود دي.

**سوال:** د عرض البلد ټولې دایرې یوبل سره څنګه دي؟

**ځواب:** د عرض البلد ټولې دایرې یو بل سره موازي دي.

## اقلیم څه دی؟

**سوال:** اقیلم تغریف کړئ؟

**ځواب:** اقلیم یوه لاتیني کلمه ده چې له [ klima] څخه اخیستل شوې او د میلان معنا لري.

**سوال:** میلان په مستوي مدار باندې څودرجې زاویه جوړه وي؟

**ځواب:** ________ ۱/۲ ۱، درجې زاویه جوړه وي.

**سوال:** د اقلیم عناصر کوم دي نومونه یې ولیکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: تودوخه ، هوافشار، د بادونو لګېدل، لند بل او وربښت.

سوال: تودوخه په ثانيه کې ځمکې ته څومره راځي؟

ځواب: [۱۲۶] ترليونه هسپاوره

سوال: د لمر رڼا ګرنديتوب په يوه ثانيه کې څومره دی؟

ځواب: [۳۰۰۰۰۰] کيلومتره دی.

سوال: لمر تودوخه په ترويوسفير او لوړو غرنيو سيموکې له لوړوالي سره کوم راړيکه لري؟

ځواب: سرچپه اړيکه لري.

سوال: تودوخه په کوم وخت کې توپيرمومي؟

ځواب: تودوخه په يوه شپه ورځ کې د مياشتې او کال په اوږدو کې توپيرمومي.

## د بادونو لګېدل

سوال: هغه بادونه چې د ځمکې پرمخ را لګيږي په اقليم باندې کومه اغيزه لري؟

ځواب: په اقليم باندې د پام وړ اغيزه لري .

سوال: د فشار دمرکزونو په پام کې نيولو سره د بادونو جريان په ډوله دی؟

ځواب: په درې ډوله دی.

سوال: د لويديځ بادونه د شمالي نيمې کرې په څو درجو کې لګيږي؟

ځواب: [۳۰] او [۶۰] درجو ترمينځ عرض البـــلدونو کې لګيږي.

سوال: باران څاڅکي ږلی او واوره د څه شي په واسطه ځمکي ته را ښکته کيږي؟

ځواب: د ترويوسفير له بېلابېلو لوړو برخو څخه د جاذبې د قوې په واسطه ځمکې ته را ښکته کيږي.

سوال: اتموسفير د اوبو براس اندازې ته څه شی ويل کيږي؟

ځواب: [Humidity ] يا رطوبت يا لنده بل ويل کيږي.

سوال: غرني اوربښتونه د څه شي په نوم ياديږي؟

ځواب: [Oro graphic ] په نامه ياديږي.

سوال: د ګاز براس څه وخت رامينځته کيږي يو لامل يې وليکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځواب: د ګازېراس هغه وخت رامينځته کيږي چې د اشباع او اورښت عمل تر سره نه شي .**

**سوال: جبهه يي اورښتونه دغه ډول اورښتونه ديوې سيمې د څه شي له امله رامينځ ته کيږي؟**

**ځواب: د يوې سيمې تيټ او لوړ فشار د بدلون له امله رامينځ ته کيږي.**

## د اقليم اغيزمن علتونه

**سوال: په څومه پيرۍ کې د نړۍ په اقليم کې يو څه بدلون رامينځ ته شو؟**

**ځواب: د شلمې پيرۍ په پای کې او د يو ويشتمې پيرۍ په پيل کې رامينځ شو.**

**سوال: د اقليم پيژندني پوهانو په اقليم باندې اغيزمن لاملونه کوم ښکاره کړ؟**

**ځواب: اول: د اقليم نبستيز توکي دويم د اقليم اغيزمن عوامل دي.**

**سوال: څو فکټورونه د سيمې په هوا او اوبو باندې په سيده توګه اغيزه کوي؟**

**ځواب: څلور فکټورونه دي.**

**سوال: په غرنيو لوړو سيمو کې په هر سل متره لوړوالي سره د تودوخې سانتي ګرد درجه څومره کيږي او لامل يې وليکئ؟**

**ځواب: يوه درجه را کميږي او د غرنيو کنګلونو لامل کيږي.**

**سوال: د يوې سيمې په محلي اورښتونه باندې کومې څپې اغيزه لري؟**

**ځواب: سړې او تودې څپې .**

**سوال: ګلخانه يي ګازونه کوم دي؟**

**ځواب: نيتروس اوکسايد ، ميتان،کلورو فلوروکاربن.**

## د اقليم ډولونه

**سوال: يو ملي بار مساوي کيږي دڅوسره؟**

**ځواب: يو ملي بار مساوي دی د سيمابو[۲۹] انچ د سيمابو له لوړوالی سره.**

**سوال: معتدل اقليم په څو برخو ويشل شوې دی؟**

**ځواب: په پنځه ډوله دی.**

**سوال: نيمه استوايي لنده بل لرونکی اقليم اوړی او ژمی لري؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: لنده بل لرونکی اوړی او معتدل ژمی لري.

سوال: د لویدیځو غاړو اقلیم اوړی څه ډول دی او اوربښت اندازه یې څوره ده؟

ځواب: اوړی یې وچ دی او د اوربښت اندازه یې لږه ده.

سوال: مدیترانه یې اقلیم څه ډول اوړی او ژمی لري؟

ځواب: وچ اوړی لري او معتدل او لنده بل لرونکی ژمی لري.

سوال: د قطبي سوړ اقلیم او غرنی لوړې سیمي کوم اقلیمونه لري؟

ځواب: نیمه قطبي وچ اقلیم، نیمه قطبي سمندري او لنده بل لرونکی اقلیم تندرا اقلیم د کنګل لرونکي سیمو اقلیم او د غرنیو لوړو سیمو اقلیم.

سوال: نیمه قطبي وچ اقلیم کې ولی هوا ډیره سړه وي لامل یې ولیکئ؟

ځواب: په ژمي کې چې کله د لمرو وړنکي له قطب دایرې سره مماس تیریږي په ټول شمالي او نیمه قطبي سیمه کې هوا سړه وي.

سوال: د تندارسیمي اقلمي ساخه د څو درجو تر مینځ واقع ده؟

ځواب: د ـــــــ $66\frac{1}{2}$ درجو عرض البلد او د قطب د دایرې ۷۵ درجو تر مینځ واقع دی.

سوال: د نړی لوي کنګلونه په څو ډوله دي نومونه یې ولیکئ ؟

ځواب: ګرینلند کنګل او نتارکتیکا کنګل او شمالي کنګل دی.

سوال: خودباران او واورې اوربښت لوړولي سره څه اړیکه لري؟

ځواب: سیده په سیده اړیکه لري.

سوال: په غرنیو سیمو کې د اوربښت اندازه څومره ده؟

ځواب: [۱۸۰۰] او [۳۰۰۰] ملي مترو څخه زیاته ده.

## د اتموسفیر طبقې

سوال: تروپوسفیر طبقه د ځمکې له مخ څخه څومره لوړوالی لري؟

ځواب: د [۸] څخه تر [۱۲] کیلو مترو پورې لوړوالی لري.

سوال: د سترا توسفیر طبقه څومره لوړوالی لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: د [۱۲] څخه تر [۴۵] کیلومتره و پورې لوړوالی لري.

سوال: میزوسفیر طبقه څومره لوړوالی لري؟

ځواب: د [۴۵] کیلو مترو څخه [۸۰] کیلو مترو پورې لوړوالی لري.

سوال: اکزوسفیرطبقه څومره پیړوالی لري؟

ځواب: [۱۳۰۰۰] کیلو متره پورې پیړوالی لري.

سوال: د ایونوسفیر طبقه له څه شي څخه جوړه شوې ده؟

ځواب: د هایدروجن له آیونونو څخه جوړشوې دی.

## د ځمکې اتموسفیر: په اقلیم کې داتموسفیر ارزښت

سوال: د ځمکې اتموسفیر څه ته وایي؟

ځواب: اتموسفیر یو ګاز لرونکي کره ده چې د ځمکې د کرې شاوخوا یې نیولې ده.

سوال: بایوسفیر کومې طبقې ته وایي ؟

ځواب: د ځمکې په بهرني قشر کې ژوندي موجودات ونې اړ بوټي شته چې دغې طبقې ته بایوسفیر طبقه وایي.

سوال: د سمندر په کچه کې د هوا فشار څومره دی؟

ځواب: [۷۶۰] میلي متره دی.

سوال: د اقلیم په اړه د اتموسفیر شتوالی د څه شي لا مل کیږي؟

ځواب: د بادونو د لګیدو لامل کیږي.

سوال: کومه طبقه د انسان ژوند ژغوري؟

ځواب: د اوزون طبقه چې د ماورای بنفش له وړانګو څخه مخنیوی کوي د انسانانو ژوند ژغوري.

## د هوا پیژندنې او کتنې د سنجولو اسباب: د باد د لګیدو څرنګوالی

سوال: تودوخې د معلوملو لپاره کوم وسایل شته یو څو یې ولیکئ؟

ځواب: سیمابي ترمامیتر/و الکترونیکی او بربښنایي تودوخه سنجوونکي دي.

سوال: د لمر د څرګندیدو آله د لمر څه شی ښکاره کوي؟

ځواب: د لمر د څرګندیدو آله د لمر د وړانګو اندازه ښکاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سوال: د هوا فشار په کومه آله ثبت کيږي؟**

**ځواب: په بارو ګراف آله باندې ثبت کيږي.**

**سوال: بادونه د څه شي له امله رامينځته کيږي؟**

**ځواب: د بادونو د ټيټ او لوړفشار د مرکزونو د توپير له امله رامينځته کيږي.**

**سوال: په سمندر او وچه کې بادونه په څو ډوله دي د دوو نومونه وليکئ؟**

**ځواب: په پنځه ډوله دي چې عبارت دي له منطوقي بادونه ، تجارتي بادونه.**

**سوال: منطقوي بادونه کوم دي او اصلي لامل يې کوم دی؟**

**ځواب: هغه بادونه دي چې په کوچنۍ ساحه کې په منطقوي بڼه را لګيږي. د هغو اصلي لامل د ټيټ او لوړ فشار مرکزونو دي.**

**سوال: په افغانستان کې کوم ولايت [۱۲۰] ورځني بادونه لري؟**

**ځواب: هرات ولايت [۱۲۰] ورځني بادونه لري.**

**سوال: کوم بادونه په لږه اندازه وي خو ګرنديتوب او د ويجاړولو توان يې ډير وي؟**

**ځواب: تيفون او هريکن بادونه لږ اندازه لري او خو د ګرنديتوب او ويجاړولو توان يې ډير دی.**

**سوال: سونامي توپانونه په کوم ځای کې پيښيږي؟**

**ځواب: د سمندرونو منځ کې يا هم د سمندرنو غاړو او سواحلوته نژدې پيښيږي.**

**سوال: کوم بادونه د استوا له کرښې سره موازي دي او لنډيز يې څه شي دی؟**

**ځواب: اسوايې متقارب بادونه د استو له کرښې سره موازي دي او لنډيز يې [I,T,C ] دی.**

**سوال: کوم بادونه د درندو واورو لامل کيږي؟**

**ځواب: قطبي ختيځ بادونه دي.**

**سوال: او کوم بادونه د درندو توپانونو لامل کيږي؟**

**ځواب: لويديځ مسلط بادونه دي.**

**سوال: د بادونو يو څو ګټې وليکئ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: د اوبو دوارن جریان دادمن کوي، د ونو او بوټو .او په تیره بیا د خرما [خجورو] ونو ودې ته ګټور دی.او د هغه له انرژۍ څخه استفاده کیږي.

## وریځې: د لوړوالي له مخې د اوربښت ډولونه

سوال: وریځې له څه شي څخه جوړیږي؟

ځواب: وریځې په هوا کې د اوبو د بړاسونو د سره نژدې کیدو له امله جوړیږي.

سوال: وریځې له څه شي څخه هوا ته پورته کیږي؟

ځواب: وریځې د لمر وړانګو او بړاس کیدو د عملیې له امله د سمندرونو، سمندر ګیو،ولاړو اوبو ، خاورې، او د ونو له پاڼو څخه هوا ته پورته کیږي .

سوال: کله چې هوا تودوخه له صفر څخه ټیټه شي نوڅه جوړیږي؟

ځواب: بړاسونه د کنګل کوچني کرستلونه جوړوي.

سوال: وریځې په څو ډوله دي نومونه یې ولیکئ؟

ځواب: په څلور ډوله دي چې غبارت دي له د سیرس د بڼو په شکل ، سیروکومولوس د کوچنی توټې بنکو په شکل، سیروستراتوس د بڼو په شکل، هالوویل و مالي او کیږدۍ په شکل.

سوال: کومولوس وریځې څومره لوړوالی لري؟

ځواب: ۵ ـ ۶ کیلومتره لوړوای لري.

سوال: کومولوس وریځې کوم وربښت لري؟

ځواب: درونډ او توپاني وربښت لري.

سوال: کله چې د غرونو لوړوالی تېزي نو څه شی ورو ورو زیاتیږي؟

ځواب: تودوخه ورو ورو زیاتیږي.

سوال: د لمر وړانګې د څه شي څخه بړاسونه پورته کوي؟

ځواب: د سمندرونو او سمندرګیو، او ولاړو اوبو له مخې څخه بړاسونه پوره کوي.

سوال: د اوبو د بړاسونو د پورته کیدو له امله څه شی کمیږي؟

ځواب: تودوخه کمیږي.

سوال: که چیرې توده هوا په غرنیو سیمو کې د سرې هوا له پاسه تیره شي نوڅه کیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځواب: د تکاثف د عملیې له کبله باران کیږي.**

**سوال: اوربښت ولې د انسانانو ټولو نورو ژویو او بوټو په ژوند کې ډېر زیات ارزښت لري؟**

**ځواب: دا ځکه چې پرته له اوبو ژوند امکان نه لري.**

**سوال: اوبه کومه ماده ده ؟**

**ځواب:اوبه حیاتي ماده ده.**

مرتضی همدرد

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**